پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۹/۱۹

# سا لرونکي کتابونه او زموږ د مطالعې کچه

## کتاب لوستنه، کمپيوتري او ډيجيټل اسانتياوې

زموږ هيواد، ټولنې او خلکو ته له جګړې نه د رازيږدلو سونامي ګانو د تعدد په خاطر ډيرې بدمرغي ور له غاړې شوي دي. زما په عقيده له دې بد مرغيو نه د خلاصون يوه لار په مدرن او نوې بڼه د نوي نسل روزل دي. عادي سواد، ښونځي ته تګ، پوهنتون، لوړې زدکړې او په دې ټوله پروسه کې مطالعه او کتاب لوستنه، دا هغه پوړۍ دي چې د نوي نسل هر تن بايد وربانډې قدم کيږدي او مخ په بره ولاړ شي.

په دې برخه کې د قلموالو ځانګړې دنده ده چې د دې ستر انساني او وطني رسالت په درکولو سره، عملي کار ور ته وکړي. ما د نوي نسل د روزنې په موخه په ځانګړي ډول د کتابلوستنې او د نوي نسل د روزلو د نهضت د پياوړتيا په پار ګڼ شمير مقالې ليکلي دي چې ټولې مې په بريښنايي بڼه خپرې کړې دي او مثبته پاله مې يې هم احساس کړې او ليدلې ده، خو نه هغومره چې ما يې اميد درلود.

دا يوه ښکاره او منل شوې خبره ده چې د تمدن او تکنالوژۍ کاروان د يو ډير چټک ريل په ډول، په نه تم کيدونکې بڼه په حرکت کې دی او زموږ ټولنه او خلک د بيلابيلو دلايلو له مخې له دې کاروان څخه يا لږ يا ډير وروسته پاتې دي. د تمدن، پرمختګ او تکنالوژۍ کاروان هيڅ چا ته نه دريږي او نه څوک شته د «ورو» او «سُلو» غږ پرې وکړي او نه هغه کاروان د «ورو» کيدو او «سُلو» کيدو وخت لري.

د دې زماني خلکو ته اړينه ده چې خپله ورپسې منډې کړي ا و ځان ورپسې ور ورسوي، دا کار له امکان څخه لرې نه دی، دا کار کيدونکی دی، که نه شوای کيدای ځنګه ډاکتر وحيد آرين نومي افغان چې په همدې جنګ ځپلې او وروسته پاتې ټولنې کې زيږيدلی او زلمی شوی و ځان د علم او پوهې دې پوړۍ ته ورساوه چې نن ملګري ملتونه په لومړي ځل دې افغان زلمي ته د «نړيوال اتل» جايزه ورکوي.

دا يو ښکاره حقيقت دی چې له افغانستان څخه اروپا او نورو پرمختللو هيوادونو ته ډير افغان زلميان او پيغلې راغلي دي، ځينې يې يا خپله او يا هم کورنيو د پيسو د ترلاسه کولو له پاره، د کار له په خاطر د پيزاريو دروازو ته درولي دي او ځينې يې د زدکړو او علم په درويزه پسې وتلي او د ښوونځيو او پوهنځيو دروازې يې ټکولي دي او ان تر دې پوړۍ پورې يې ځانونه رسولي دي چې په نړيواله کچه يې خپلو ځانو، خپلې کورنۍ، خپل هيواد او لا ټول بشريت ته وياړ ګټلی دی چې ښه بيلګه يې همدا افغان ډاکتر وحيد آرين دی.

د پوهې او زدکړو له برکته د افغان ډاکتر وحيد آرين بريا دوه پيامه رسوي:

**ـ که افغانانو ته زمينه برابره شي، د پوهې او زدکړو د ډګر قهرمانان هم کيدای شي،**

**ـ د ډاکتر وحيد آرين بريا په عام ډول د ټول بشريت له پاره او په ځانګړي ډول افغانانو ته، په تيره افغان نوي نسل ته دا پيام ورکوي چې د زدکړو لار او د ښوونځي او پوهنځي لار تر نورو لارو ډيره غوره ده.**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په غير و لولئ

د افغان زلمي ډاکتر وحيد ارين دي کار وښوده چي هرڅوک کولای شي د علم، تمدن او تکنالوژۍ په کاروان پسي ځان ورسوي او يوازينی لار يې د سواد زدکړه، مطالعه ښونځي او پوهنځي ته تګ دی، ځکه چې سواد، مطالعه، ښونځي او پوهنځي ته تګ موږ د دې جوګه کوي چې د تمدن او تکنالوژۍ په کاروان پسي ځان ورسوو.

زه به يې د رسيدو يوه بله طريقه هم دلته د يوې ښې او آسانه لارې په ډول تاسو درنو لوستونکو ته وړاندې کړم چې په همدې نږدې ورځو کې زما يو دانشمند نا ليدلي دوست ډوکتور بهيج عثماني د وړانديز په ډول په خپله فيسبوک پاڼه کې خپور کړی دی. هيله ده چې د دې په لوستلو سره د تمدن او تکنالوژۍ په کاروان پسي د تګ يوه لنډه لار باندې بلد او ورپسي روان شو:

«تاريخونه وايي چې کله په لومړي ځل د ليک لپاره د کاغذ کارول پيل شول، د هغه وخت د ليکوالو او پوهانو سخته غصه يې راوپاروله. د دوی پاڼي، څرمني، لرګي او په ځينو سيمو کې ډبرې ډېرې خوښې وې. د کاغذ د بدوالي لپاره يې بېلابېل دلايل لرل مګر کاغذ دود شو، د کتابونو بيې راولوېدې، د چاپ صنعت پراختيا وموندله او د پېړيو پېړيو په ترڅ کې يې پوهه تر عامو خلکو پورې ورسوله

خو ښکاري چې نور د کاغذ او قلم وخت هم پای ته رسېدلی دی. اوس هڅه کېږي چې ليکني، کتابونه، ورځپاڼې، مجلې او نور... مولټيمېډيا بڼه ولري. اوس خلک يوازې توري نه غواړي، پرغږ او انځور برسېره غواړي کتابونه سا ولري په دې مانا چې د لوستونکي شرايطو ته په پام ځان بدل کړي. په شپه کې يو ډول، په ورځ کې بل ډول، د خوابدی په حالت کې بل ډول او ... وي. ځينې دغه کارونه لا په ازمايښتي پړاو کې دي
.
د استاد شپون تر وفات وروسته مي فکر کاوه چې هغه څه د پاسه شل کالونه په امريکا غږ کې کار وکړ، له سټوډيو، مايکروفونونو، د غږ ثبتوونکيو وسايلو او هر څه سره بشپړ بلد و خو بيا يې هم هڅه ونکړه چې لږ تر لږه خپل ناولونه په خپل غږ ولولي. ولې؟

ځکه هغه لا هم پر دې باور درلود چې خپل آثار بايد په کتابي او کاغذي بڼه خپاره کړي او دا يې د خپلو آثارو د خونديتوب يوازينۍ لاره ګڼله خو دې ته يې پام نه و چې د ده په ژوند او د ده په پوهنتون لوستيو شاګردانو کې به ډېر داسي خلک وي چې لا هم د ده کتاب په سمه توګه نشي لوستلای او يا به يې د لوستلو لپاره وخت ونلري.

شپون ولاړ، آثار به يې ښايي ماغوندي خلک ولولي خو هېڅکله به د ده د غږ هومره ارزښت ونلري. کټ مټ لکه يو جعلي نوټ چې د اصلي په مقابل کې وي.

يوه شيبه فکر وکړئ که نن مو د خوشال خان خټک ، رحمان بابا، حميد بابا، غني‌خان او نورو شعرونه د هغوی په خپلو غږونو کې لرلای څومره ارزښت به يې درلود؟

ليکوالو، شاعرانو، اديبانو!

د کاغذ دوران تېر دی، له کمپيوټري او ډيجيټل اسانتياوو سره ځان بلد کړئ، ګټه ترې واخلئ او خپل آثار په نويو لارو تر خلکو ورسوئ. ستاسو هر يو دوه درې سوه کالونه وروسته همدومره مهم کېږئ لکه چې نن خوشال‌خان، رحمان بابا او نور دي.

که نور هيڅ نشئ کولای موبايل مخې ته کېږدئ او خپل کتاب ورته ولولئ، په فيسبوک، يوټيوب او ... کې يې خپور کړئ. پرېږدئ چې راتلونکي نسلونه مو د لوستلو پرځای ووينې، واوري او په تول مانا مو احساس کړي.»

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

په دې ډول که موږ د نوي نسل روزل په يوه وطني خوځښت بدل کړو او په خپل ټول ځواک سره د سواد، مطالعې، زدکړو، ښوونځي او پوهنځي ارزښت خلکو ته وښيو، نو لرې به نه وي چې زموږ خلک او ټولنه به د زدکړو له لارې له نوې تکنالوژۍ او پوهې خاوندان او د نوي ژوند او تمدن د لارې لارويان شي.



**چې ماشومان مې له مکتب نه غربت پاتې نکړي**
**لـه خپـلو ګـوتو نه به جـوړ کړم قـلمـونه خدايـه!**

باقر


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ